بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيم
د مولانا سعيد افغاني د سولی او تفاهم،نشراتي ارګان
www.said-afghani.org
آزاده، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان
Dr.Said Afghani

د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !

د نشر نيټه : 24 فبرورى 2018 م

# پروفيسور عبدالله جان بختاني خدمتګار « بابا »



د مينی په جواري کښي بختاني نه يي زړه ويوړ
هستي چه يي له وبښ زلمي ګټله دا ويده وه

د مولوی محمد سعيد « سعيد افغانی » لينکه

د ۱۳۲۵ هجری شمسي ـ کال ـ ننګرهار

استاد بختاني خدمتګار صاحب ؛ زمونږ د هیواد اود سیمي مشهور نومیالي عالم ، لیکوال ، تکړه څیرونکي ، منلی شاعر او اجتماعي شخصیت دی چه د ویښ زلمیانو د حرکت سره سم چه په کال « ۱۳۲۵ هجري شمسي د دلو په ۲۵ مه » په ننګرهار کښي جوړه شوه ، تر اوسه پوري د سولې ، تـرقي ، ورورۍ او برابرۍ لپاره اخلاصمندانه مبارزه کوي

استاد بختاني خدمتګار صاحب د ملا آقا جان طبیب زوی دی، د ۱۳۴۳ هجری قمری د لوی اختر د میاشتې په نهمه « عرفه » د ۱۳۰۴ هجری شمسی کال د سرطان په لسمه د چهار ښنبې د ورځې د ځاښت په مهال د ننګرهار ولایت د سره رود په چهار باغ صفا کښې زیږیدلی او نژدې تر شل کلني پورې هلته او سیدلی دی، ددي مودې په ترڅ کښې یې پلار هلته طبابت کاوه . موریې د چهار باغ صفا او پلارې د سره رود د بختان کلي دی. اوس د کابل ښار د خیرخانې په دریمه برخه کښې اوسي .

استاد بختانی خدمتګار صاحب خپلې لومړنی زده کړې په خپل کور کې له خپل مور او پلار نه پیل کړي او بیا د نورو استادانو څخه یې پر مخ بیولی دې .

عربي دیني علوم، فقه، تجوید، تفسیر، حدیث، اصول فقه، اصول حدیث، عقاید، میراث، صرف و نحو، بدیع، بیان، معاني، حکمت او منطق یې د ننګرهار او کابل په اولسي خصوصي مدرسو کښې ، د کابل عربي دارالعلوم د نصاب په معیار لوستي دي او د « مولوي » درجې ته رسیدلی دی.

فارسي او عربي ادبیات، پخوانی طب او د ریاضي درسونه یې د هغه وخت د اولسي مدرسو په معیار سرته رسولي دي.

تاریخ، جغرافیه، فزیک، کیمیا او بیالوژي یې « د بکلوریا په معیار » په شخصي توګه مطالعه کړي ده . په فلسفه، تولنپوهنه، سیاست او سیکالوژۍ کښې یې پراخه مطالعه کړې ده .

د دینی علومو، ادبیاتو، طب او ریاضی په برخه کې یې له نامتو او پیژندل شویو استادانو نه زده کړې ترلاسه کړی چې د ځینو نومونه یې داسي دی:
خپل مور او پلار، د سره رود د قلعه نو حاجی ملا مدد، د چهار باغ صفا د حضرت صاحب د جامع جومات خطیب ملا محمد حفیظ، د حضرت صاحب د جومات د حافظانو د مدرسې مشر استاد حافظ ملک، د جناب نقیب صاحب طبیب د علی خیلو ملا عبدالغنی ، د سره رود د شمسه پور مولوی عبدالله جان، د خوګیانو د نکرخیلو د جامع جومات خطیب مولوی میر عبدالواحد، لوګری ملا عبدالودود معلم، د قاسم یکه میرانو مولوی امین ګل، د لغمان د تیګرو د پشه ای کلی اوسیدونکی مولوی عبدالرحیم، د لغمان مولوی فیض الله ، د جناب نقیب صاحب خلیفه او د هغه د زامنو استاد مولوی محمد سعید سرروضه وال او ځینې نور.

انګریزی ژبه یې تر څلورم ریدره پورې، د پغمان له ښاغلی محمد عمر قریشی معلم سره لوستې ده.
په پښتو ژبه کې څوک استاد نه لری او خپله د خپل ځان ښوونکی دی. په پښتو شعر او ادب کې یې لارښود استادان ، استاد ګل پاچا الفت ، استاد قیام الدین خادم ، استاد صدیق الله رښتین او استاد عبدالروف بینوا دی .

استاد بختاني صاحب په روسی ژبه پوره بلدیت لری . له ۱۹۶۳ ــ ۱۹۶۴ میلادی کال پورې د مسکو ښار د لومونوسوف په دولتی پوهنتون کې د روسی ژبی او ادبیاتو زده کړه تر لاسه کړې ، او د ژبې د تدریس او درسی موادو د تیارولو د میتود په برخه کې یې ډیپلوم اخیستی دی . د ترجمې د میتود کورس یې هم هماغلته په بریالیتوب پای ته رسولی دی

نوموړی د خپل ژوندانه زیاته برخه د هیواد په علمی، تعلیمی، څیړنیزو، ادبی ، ژورنالیستی او ملی خدمتونو کې تیره کړې ده، په دې لړ کې ۲۳ کاله په پښتو ټولنه او ۱۴ کاله د علومو اکاډمی کې په علمی څیړنیزو فعالیتونو بوخت پاتې شوی دی.

استاد بختانی خدمتگار صاحب د ۱۳۲۵ هجری شمسی کال د وری په لسمه د دولت د ماموریت لړۍ د ننگرهار ولایت د پوهنې مدیریت د ۱۱ مې رتبې مامور په توگه پیل کړی ، په ۱۳۲۶ هجری شمسی کال د ننگرهار د مطبوعاتو په مدیریت کې د ننگرهار ولایت د مرکز د مامورینو د پښتو کورسونو د استاد په حیث مقرر شو، دغه کورسونه رسماً د پښتو ټولنې پورې مربوط وو .
د ۱۳۳۱ هجری شمسی کال د زمری په میاشت کې د زېرې جریدې مسئول مدیر او د پښتو ټولنی مسلکی غړی شو.

هغه د ۱۳۳۴ کال نه تر ۱۳۳۹ هجری شمسی کال پورې په ترتیب سره د ننگرهار د مطبوعاتو د مدیریت مرستیال او د پښتو کورسونو آمر ؤ ، چې پښتو ټولنی پورې مربوط ؤ ، د ننگرهار مجلې مسئول مدیر، د مطبوعاتو د مستقل ریاست د نشراتو د ریاست مسلکی غړی، د ننگرهار د مطبوعاتو لوی مدیر او د ننگرهار ورځپاڼې مسئول چلوونکی او بیا دوهم ځل د ننگرهار مجلې مسؤول مدیر په توگه یې دندې تر سره کړی دی.

په ۱۳۳۹ هجری شمسی کال کې د پښتو ټولنې مسلکی غړی شو. د دغې ټولنې د ادبیاتو لوی مدیر او بیا د رئیس مرستیال شو او په ۱۳۵۴ هجری شمسی کال کې یې د څیړندوی علمی درجه تر لاسه کړه. وروسته د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې د هیواد ورځپاڼی مسئول مدیر، د پښتو د پراختیا او پرمختیا د اداری آمر ، د خلکو د فرهنگ ( فولکلور ) د اداری آمر ، د پکتیا د مجلې مسؤل مدیر، د هیواد د ورځپاڼی رئیس او سر محرر په توگه وظیفې تر سره کړی دی.

په ۱۳۶۴ هجری شمسی کال کې د افغانستان د علومو اکاډمی علمی غړی شو ، دوه کاله د علومو اکاډمۍ د غړیتوب سره د افغانستان د لیکوالو د ټولنې د ریاست مرستیال او لومړی منشی ؤ .
بیا د علومو اکاډمۍ د علمی غړی په توگه پاتې شوی دی . په ۱۳۷۳ هجری شمسی کال کې متقاعد شوی. بختانی خدمتگار صاحب د پورته یادو شویو دندو تر څنگ وخت په وخت په ښوونځیو او کورسونو کې د پښتو، دری او عربی ژبو تدریس هم کړی او د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځی د پښتو ادبیاتو د تاریخ د استاد په حیث خدمت کړی دی.

په ۱۳۸۲ هجری شمسی کال کې یو څه موده د افغان یووالی د اونیزې مسؤل مدیر و، او په هماغه کال د علومو اکاډمۍ د ضرورت له مخې تقاعد یې ترفع او د ۱۳۸۵ هجری شمسی کال د وږی میاشتې تر پیله پورې یې د دې اکاډمۍ د مشر علمی غړی په توگه خپلو علمی وظایفو ته دوام ورکړی او بیا تقاعد ورکړی شوی دی. د استاد وروستی دولتی رتبه مافوق ده.

استاد بختانی صاحب په ۱۳۵۵ هجری شمسی کال کې د پښتو ټولنې لخوا د څیړندوی لوړه علمی درجه تر لاسه کړې، وروسته د علومو اکاډمۍ لخوا دغه علمی درجه د سر محقق په علمی درجه واوښتله او په همدې درجه ومنل شو، چې دغه درجه د پوهنتون د پوهاند یا « پروفیسر » د درجې سره معادله ده.

د استاد دزیږدو اتیا یمه کلیزه د افغانستان د علومو اکاډمی ، لخوا په یوه درنه علمی غونده کښې نمانځل کیدله ، د افغانستان د علومو اکاډمی لوی ریس پخپله پرانیستو نکی و ینا کښې وعده ورکړه چه نوموړی استاد ته د « اکادمیسن » د علمی درجې دورکولو په باب لوړ و مقاماتو ته وړاندیز کوې . د غونډی د برخه والو له خوا ددی وعدی هرکلی په چکچکو او لولو سره وشو ، مگر په

عملی او رسمی توګه لایې درک معلوم نه دئ . چه د حق د لاری د کلتوری مرکز او د افغان ستراتیژیک څیړني مرکز هیله لری چه د استاد بختانی خدمتګار صاحب ؛ دا علمی درجه « اکاډمیسن » په هکله ، لوړ مقامات جدی توجه وکړی .

استاد بختانی صاحب ؛ د هیواد او سیمی مشهور دانشمند ، د ژبو ، ادبیاتو او تاریخ تکړه څیړندوی ، منلی شاعر ، ماهر ژورنالیست او فرهنګی تولنیز ملی شخصیت دی .

هغه په پښتو او دری ژبو نظم او نثر لیکی او څیړنې کوی . له عربی او روسی ژبو څخه یې علمی څیړنيزې او ادبی ترجمعی کړی دی . د سلو په شا و خوا کښی علمی او ادبی آثار تالیفات او تر جمې لری او تر زرو زیاتې تولنیزی او سیاسی مقالې او مرکې یې د هیواد او بهرنیو هیوادنو په رسنیو کښې خپرې شوی دی .

استاد بختانی صاحب د هیواد او بهر په ډیروعلمی ، ادبی څیړنیزو غونډو، سیمینارونو، سمپوزیمونو او کنفرانسونو کښی فعاله برخه اخستی ده . او په دی لړ کښې یی پخوانی شوروی اتحاد ، پاکستان ، هنوستان ، عراق ، المان ،چکوسلواکیا او پولیند ته علمی فرهنګی سفرونه کړې دی .

استاد بختانی صاحب په ۱۳۸۵ هجری شمسی « ۱۴۲۷ » هجری قمری کال ، عربستان ته د حج فریضی د ادا کولو لپاره ولاړ . اوس یو نوی کلن دئ ، په سپینه ژیره په ډیر شوق ا و ذوق مطالعه کوی ، قلم چلوی ، دعلم او ادب په خدمت بوخت دی .
درس ورکوی د علومو د اکاډمی د یو شمیر غړو د علمی پروژو لارښودنه کوی او په ژبنیو ، ادبی ، ټولنیزو او سیاسی چارو کښی ځانله مستقل فکر او دریځ لري . هغه ته د الله پاک له درباره روغتیا او با ثمره اوږد ژوند غواړو او د چاپ په اعتبار ، په کرونولو ژیکه بڼه د هغه د تالیفاتو نومښود وړاندې کوو:

## د سرمحقق بختانی خدمتګار یو لړآثار

ـ په اسلام کښې د ښځو حقوق ــ د مصرد (المنار) د جریدې د مدیر، رشید رضا، د (الوحی المحمدی له کتاب څخه ترجمه د ۱۳۲۷ هـ ش چاپ

ـ مصایب الدخان (د تمباکو زیانونه) د مصر د (الازهر)

ـ د استاد سید محمد عبدالغفار الهاشمی الافغانی د عربی کتاب ژباړه ــ د ۱۳۳۲ هـ ش چاپ . دوهم ایډیشن له زیاتونو سره بیا ترجمه د ۱۳۴۸ هـ ش چاپ

ـ اراده ــ (روحیات) ــ د پروفیسر غلام حسن مجددی له دری لیکنې نه ژباړل شوی او د آریانا دایرة المعارف د یو شمیر نورو لیکنو ژباړه ــ د ۱۳۳۲ هـ ش چاپ

ـ شعر او ادب د پښتو د معاصر شعر او ادب تیوریکی څیړنه تولونه ، سریزه او اهتمام د ۱۳۳۳ هـ ش چاپ

ـ د زړۀ راز د شعرونو لومړئ مجموعه د ۱۳۳۵ هـ ش چاپ .

ـ پښتانه د علامه اقبال په نظر کښې ۱۳۳۵ هـ ش

ـ میرزا عبدالرحیم رحیمی ( احوال و اشعار ) بزبان دری ۱۳۳۵ هـ ش . چاپ دوم با افزونی ها ۱۳۸۰ هـ ش

ـ پښتنی خویونه _ ادبی تولنپو هنیزه څیرنه ۱۳۳۵ هـ ش

ـ د ملنگ جان خوږې نغمې تولونه ، سمون ، سریزه او ترتیب ۱۳۳۵ هـ ش . دوهم چاپ له زیاتونو سره ۱۳۴۸ هـ ش

ـ خوږې ترخې د ادبی او انتقادی نثرونو مجموعه د ۱۳۳۶ هـ ش چاپ

ـ سیدو ملنگ موزیکال اصلاحی ډرام په څلور وپردو کښې په ننگرهار ننداري کښې ښودنه : ۱۳۳۸ هـ ش په کابل کښې چاپ ۱۳۴۱ هـ ش

ـ علمی آزمېښتونه په ساده وسایلو ساینسی درسی مرستیال ــ د موریس پارکر لیکنه ــ د استاد غلام علی آیین له دری ترجمې نه پښتو شوی ــ ۱۳۴۱ هـ ش

ـ راز د شعرونو دوهمه مجموعه ۱۳۴۲ هـ

ـ پښتو کلی څلورم توک درسی ۱۳۴۵ هـ

ـ شرنگ د شعرونو درېیمه مجموعه ۱۳۴۶ هـ ش

ـ معاصر ادیبان تذکره ۱۳۴۷ هـ ش

ـ توربریښ د پښتنو ملی تاریخی شفاهی سندرې تولونه ، ترتیب او سریزه ۱۳۴۷ هـ ش دوهم چاپ ۱۳۸۷ هـ ش

ـ پښتو لنډې کیسې د لنډو د استانونو مجموعه ۱۳۴۷ هـ

ـ د خوشحال خان خټک ربا عیات ا دا کادمیک متن جوړونه له ملگرو سره ۱۳۴۹ هـ ش

ـ د پښتو تولنې رئیسان او غړی ( تذکره ) ۱۳۴۶ هـ ش

ـ ابربهاری د دری شعرونو مجموعه ۱۳۵۱ هـ ش

ـ مرغلرې د ادبی نثرونو مجموعه ۱۳۵۱ هـ ش

ـ د پښتوپت د لنډو د استانونو مجموعه ۱۳۵۲ هـ ش

ـ دیونس خیبری دیوان _ نقل ، سمون ، سریزه ، اکادمیک متن او اهتمام ۱۳۵۶ هـ ش

ـ دپادری هیوز کلید افغانی سریزه ، تعلیقات او لغتنامه ۱۳۵۶ هـ ش

ـ پښتانه شعرا ء څلورم توک تذکره ۱۳۵۷ هـ ش

ـ د افغانستان سفر له روسی نظم څخه پښتو منظومه ترجمه ۱۳۵۷ هـ ش

ـ پښتو چاپي آثار   ټولونه ، اوډنه او سریزه  ۱۳۵۷هـ ش

ـ د ګلوکر  د شعرونو پنځمه مجموعه   ۱۳۵۹ هـ ش

ـ ځورب او خوار  له روسی ژبه د انتون چیخوف د داستانونو ترجمه   ۱۳۵۹ هـ ش

ـ د زړه آواز  د شعرونو انتخابی مجموعه ۱۳۶۳ هـ ش

ـ شفق  د شعرونو مجموعه   ۱۳۶۳هـ ش

ـ تذکرة الشعرا ء   تدوین ، سریزه او حواشی  ۱۳۶۳ هـ ش

ـ د باچا خان لیکونه لومړی ټوک   ټولونه ، اوډنه ، سریزه او حواشی   ۱۳۶۳ هـ ش

ـ زمونږ وطن د جرګو وطن  تاریخی   ۱۳۶۴هـ ش

ـ د سولې اوآز ادئ قهرمان خان عبدالغفار خان   تذکره   ۱۳۶۶ هـ ش

ـ د بابا مشالونه   د باچا خان وجیزې  انتخاب ، ټولونه او سریزه ۱۳۶۶ هـ ش

ـ د اخلاص هدیه   د خان عبدالغفار خان په باره کښې شعرونه   ټولونه ، اوډنه او سریزه   ۱۳۶۶ هـ ش

ـ د سولې او تفاهم د لیارې مبلغ  دوکتور سعید افغانی، د دوهم ټلین په ویاړ. تذکره   ۱۳۶۶هـ ش

ـ پښتانه شعرا ء پنځم ټوک   تذکره   ۱۳۶۷ هـ ش

ـ سوله او سلام د اسلام په رڼا کښې   دینی څیرنه   ۱۳۶۷هـ ش

ـ د خان عبدالغفار خان اندونه او انځورونه   ټولونه ، اوډنه او سریزه   ۱۳۶۸ هـ ش

ـ د پاکستان اسلامی ماهیت . .   تاریخی  ۱۳۶۸هـ ش

ـ د ملی ادب اوژور نالیزم خادم  د استاد قیام الدین خادم تذکره   ۱۳۶۸ هـ ش   دوهم چاپ   ۱۳۸۶ هـ ش   دریم چاپ   ۱۳۸۷ هـ ش

ـ فراقنامه  منظومه  ۱۳۷۸هـ ش

ـ زما استاد الفت   تذکره او ادب څیرنه   ۱۳۸۰هـ

ـ خوشحال خان او یو ځوفرهنګیالی ختک  تذکره او ادب څیرنه  ۱۳۸۰ هـ ش

ـ ګلنامه بوللـه   ۱۳۸۱هـ ش

ـ  د ملی ادب او ژور نالیزم یو هیر شوی خدمتګار شمس الدین قلعتکی  تذکره  ۱۳۸۱هـ ش

ـ ترنم دل ـ مجموعهٔ اشعار دری ۱۳۸۱هـ ش

ـ ویرني د شعرونو مجموعه ۱۳۸۱هـ ش

ـ خدمتگار د فقیر خېل په کتب خانه کښې خاطرې او څیرنی ۱۳۸۲ هـ ش

ـ د قرآن شریف ځینې خطی نسخې تجویدونه ، تفسیرونه ، مفسران او مدرسی ۱۳۸۳هـ ش

ـ د بیاض دیوان نقل سمون حاشیې او سریزه ( اکاډمیک متن) ۱۳۸۳ هـ ش

ـ زه ، ملنګ جان او خوږې نغمې تذکره او خاطرې ۱۳۸۳ هـ ش

ـ د باچا خان لیکونه ټولونه ، اوډنه ، سریزه او حواشی ۱۳۸۴ هـ ش د لومړی او دوهم ټوک یو ځای دوهم چاپ ۱۳۸۷ هـ ش

ـ بشریت مجبور ورنجور در آستانه هزارهٔ سوم میلادیاجتماعی سیاسی ۱۳۸۴ هـ ش

ـ پښتو پالنه او ژب څیرنه ۱۳۸۴ هـ ش

ـ حماسه ویونکی مبارز شاعر اجمل خټک ایډیټ ، سریزه او اهتمام ۱۳۸۴هـ ش

ـ د سید جمال الدین افغان د ژوندانه هدف ۱۳۸۵ هـ ش

ـ د هیلي د هیلۍ سپین وزر بدیعی ترجمې ۱۳۸۶هـ ش

ـ ددین ستوری مولانا نجم الدین دهډی اخوانزاده ۱۳۸۶هـ ش

ـ ستارهٔ دین مولانانجم الدین اخونزاده هده ترجمهٔ محترم فضل الرحمن فاضل ۱۳۸۷ هـ ش

ـ د سپین غره په لمنو کښې سیاسی ، ټولنیزې لیکنې ۱۳۸۶ هـ ش

ـ شجرهٔ پیر پټان مرتب : غلام حبیب نوابی تصحیح ، تنقیح ، ایډیټ ، مقدمه و اهتمام ۱۳۸۶ هـ ش

ـ د ګلکڅونو په ارمان د څلوریزو مجموعه ۱۳۸۷هـ ش

ـ پیر افغانان د حکیم الله تصور لیکنهاییدیت ، سریزه او چاپځارنه ۱۳۸۷

ـ بازتاب رویداد های تاریخی در سروده های اولسی پشتو ۱۳۸۷هـ ش

ـ دوه ادبی لیکونه ۱۳۸۷ هـ ش

ـ د کوشانی دورې ځینې یادګارونه تاریخی ، لرغون پوهنه ۱۳۸۷ هـ ش

ـ د حج سفر کیسې او خاطرې ۱۳۸۷ هـ ش

ـ فخر افغان او افغانستان ۱۳۸۷ هـ ش

ـ ابن سینا ادیب طبیب ۱۳۸۸ هـ ش

ـ د نارنج بهار تاریخی ، ادبی ، څیړنیز او طبی ۱۳۸۸ هـ ش

## چاپ لاندې

ـ تازه گلونه د معاصرو شاعرانو د شعرونو انتخابی مجموعه انتخاب تولونه ، سمون ، اوډنه او اهتمام

ـ اقبال ، افغان او افغانستان

ـ رسالهٔ (تعاملات حقوقیه و جزائیه ملی نگارش عبدالرحمان پژواک . استنساخ ، تصحیح ، تنقیح و پیشگفتار

ـ یودوه گوتې کاغذ ـ د خدمتگار مکاتبې

ـ د خدمتگار د اشعارو کلیات

## ناچاپه آثار

ـ د مرغلرو لتون ادب څیړنه

ـ دستور وانجمن ادبی څیړې او څیړنې

ـ د کتابو کتنه بیبلیو گرافی

ـ پښتانه شعرا، شپږم توک تذکره

ـ پښتانه شعرا ، اووم توک تذکره

ـ تذکره نویسئ معاصر به ارتباط شعر دری در افغانستان

ـ دیوان خلیفه قاسمی چهار باغی نقل ، تنقیح ، مقدمه و

ـ در گسترهٔ ادب دری ، پژوهشهای ادبی

ـ د ملی شاعر ژوند او هنر ـ د ملنگ جان په باره کښې

ـ رنګین غوندې عذاب ـ د اجمل ختک ژوند اوفن

ـ د خدمتگار طبی لیکنې

ـ د هیواد د بیا رغولو په هیله تولنیزې سیاسی لیکنې

ـ د احمد گل شاعری

ـ د ملک نعیم سندری

ـ د بینا د وړو لوبې

ـ د خاطراتو دفتر

ـ افغانستان  د شعرونو مجموعه

ـ تشد د او نفرت  ځلوریزې

ـ د زړه زخمونه  بولله

ـ د میراث ضابطه  فقهی

ـ ویښ زلمیان « کار لاندې »

ـ د شوروی اتحاد سفر

ـ یوه هفته په اوزبکستان کښې

ـ د چکوسلواکیا او پولیند سفر

ـ د عراق سفر

ـ د بن سفر

ـ چکچکستان زنده باد ـ خاطرې

ـ د خدمتگار د کتابخونې خطی او نادرې نسخې  ببیلیو گرافی د کار لاندې

د  مولانا سعید افغانی د سولې او تفاهم ، نشراتي ارګان
نشراتي  بورډ

www.said-afghani.org ـ بازگشت به صفحه اصلی